# زما لپاره د پټ نري رنځ (LTBI) درلودل څه معنا لري؟



**تاسو کولی شئ د پټ نري رنځ (LTBI) درملنه وکړئ او د خپل ځان او خپلو عزیزانو له ناروغه کېدو څخه مخنیوی وکړئ.**

DEPARTMENT OF HEALTH

د کالیفورنیا د نري رنځ د کنټرولوونکو د اتحادیې په اجازه اخېستل شوي دي.

## ایا د پټ نري رنځ (LTBI) درلودل زما د کډوالۍ غوښتنلیک ځنډولی شي؟

د پټ نري رنځ (LTBI) لپاره د درملو خوړل به ستاسو د کډوالۍ په غوښتنلیک کې ځنډ رامنځته **نه** کړي.

ستاسو د کډوالۍ اړوند ډاکټر به ستاسو د روغتیا ریاست ته خبر ورکړي چې تاسو پټ نری رنځ (LTBI) لرئ.

د روغتیا سیمه ییزه څانګه ښايي د مرستې په موخه له تاسو سره اړیکه ونیسي.

که تاسو د یوه داسې ډاکټر په موندلو کې مرستې ته اړتیا لرئ چې کولی شي تاسو ته پټ نري رنځ (LTBI) لپاره درمل درکړي، نو خپل د روغتیا سیمه ییزې څانګې ته زنګ ووهئ:

**سیمه:** ______

**د تلیفون شمېره:** ______

د ساري ناروغیو څېړنه، وقایه او کنټرول
پوست بکس شمېره 64975، سینټ پاول، ماینیسوټا 55164
651-201-5414 یا 1-877-676-5414
www.health.state.mn.us

1/2024

## ما په خپل هېواد کې د نري رنځ (TB) واکسین (BCG) ترسره کړی وو.
## ایا زه لاهم کولی شم په نري رنځ (TB) اخته شم؟




هغه خلک چې د نري رنځ (TB) واکسین یې ترسره کړي وي لا هم په نري رنځ (TB) اخته کېدلی شي.

د نري رنځ (TB) د واکسینو خوندیتوب **د وخت په تېرېدو سره له منځه ځي**.

حتی که تاسو واکسین هم ترسره کړي وي، په وینه کې د ناروغۍ مثبت شودل په دې معنا دي چې تاسو پټ نری رنځ (LTBI) لرئ.

د پټ نري رنځ **(LTBI) د درملو خوړل** به **تاسو له فعال نري رنځ (TB) څخه ساتي.**

## خرنګه کولی شم
## د پټ نري رنځ (LTBI) درمل ترلاسه کړم؟

**د کډوالۍ له ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ که دوی کولی شي چې** ستاسو لپاره درمل را وغواړي.

که دوی نه شي کولی، **خپل معمولي ډاکټر ته ورشئ او له هغوی څخه وغواړئ چې ستاسو لپاره درمل** را وغواړي. د وینې د معایناتو اسناد له ځانه سره ور وړئ.


تاسو کولی شئ له خپلې ځايي روغتيايي ځانګې سره اړیکه ونیسئ ترڅو تاسو د درملنې لپاره کلینیک ته راجع کړي.

**که تاسو درمل ونه خورئ، تاسو په لسو کې یو چانس لرئ** چې ستاسو پټ نری رنځ (LTBI) به په فعال نري رنځ (TB) بدل شي.

**خپل ځان**
**د فعال نري رنځ (TB) له ترلاسه کولو او په دې ناروغۍ باندې د خپلو عزیزانو له ککړېدو مخنیوی وکړئ.**

## زه ولې باید
## د پټ نري رنځ (LTBI) لپاره درمل وخورم؟

که تاسو د پټ نري رنځ (LTBI) لپاره درمل ونه خورئ، دا کولی شي په فعال نري رنځ (TB) بدل شي.




فعال نری رنځ (TB) یوه **جدي ناروغي ده چې کولی شي تاسو ډېر ناروغه کړي.**

**5%**

د فعال نري رنځ لرونکي کسان **د ناروغۍ له امله مري.**



**نیمايي** د فعال نري رنځ (TB) لرونکي ناروغان **په روغتون کې بستر دي.**

## پټ نری رنځ (LTBI) څه شی دی؟
## ما څنګه دا مکروب ترلاسه کړ؟

پټ نری رنځ (LTBI) د نري رنځ (TB) په مکروبونو باندې یوه ککړتیا ده چې ستاسو په بدن کې پټه (یا ویده) پاتې کیږي.

تاسو پټ نری رنځ (LTBI) د **له هغه چا سره د هوا د شریکولو** له لارې ترلاسه کړی چې د فعال نري رنځ (TB) ناروغ ؤ.

حتی که تاسو د نري رنځ (TB) واکسین هم ترلاسه کړی وي خو بیا هم شايي پټ نری رنځ (LTBI) ولرئ.

## د پټ نري رنځ (LTBI) او فعال نري رنځ (TB) ترمنځ ګڼ شمېر توپیرونه شتون لري:

| یو کس چې **فعال نری رنځ (TB)** ولري: | یو کس چې **پټ نری رنځ (LTBI)** ولري: |
|---|---|
| شايي د ناروغه کېدو احساس وکړي | د ناروغۍ احساس نه کوي |
| شايي د سینې ایکسرې یې غیرنورمالې وي | د سینې ایکسرې یې نورمالې وي |
| **د نري رنځ (TB) مکروبونه** نورو ته خپرولی شي | **د نري رنځ (TB) مکروبونه** نورو ته نه شي خپرولی |
| د درملنې له مخې یې فعال نری رنځ (TB) له منځه تللی شي | درملنه یې کولی شي د فعال نري رنځ (TB) مخه ونیسي |
| درملنه اوږده ده **(له شپږو څخه تر 12 میاشتو پورې یا له دې زیاته)** | درملنه یې لنډه **(له دریو څخه تر څلورو میاشتو)** او اسانه ده |